# پټې ملغلرې

اسلامي لارښووني او معلومات



Download from:aghalibrary.cm

**لیکونکی: .......................... محمد اسحاق تمیم**

**کال: ..................................... ۱۳۹۹ هـ ش**

## د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: پټې ملغلرې.

لیکونکی: محمد اسحاق تمیم.

کمپوز: محمد اسحاق تمیم

کال: ۱۳۹۹هـش ۱۴۴۱هـق

**کندهار ، افغانستان**

## ډالۍ:

ټولو مسلمانانو ته چې د خپل دین عملي کوونکي او ساتونکي دي.

Download from:aghalibrary.cm

بسم الله الرحمن الرحيم

**ان الحمد لله ، نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادي له و نشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له و نشهد ان محمدا عبده و رسوله.**

**اما بعد.**

په دې کتاب کې مختلفې ګټورې اسلامي لارښوونې ليکل سوې دي چې په ويلو به يې ستاسو تنده څه ناڅه ماته سي ان شاءالله.

محمد اسحاق تميم

## د اسلام بنيادي جوړښت پنځه شيان دی

لومړی: کلمه طيبه ويل

دوهم: لمونځ کول

درېيم: زکات ورکول

څلورم: د رمضان مياشتي روژه نيول

پنځم: حج کول.

لاندې حديث دليل دی:

بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَإِقَامِ الصَّلاَةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَحَجِّ الْبَيْتِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ. (رواه مسلم)

ژباړه: عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما وايی چې ر سول صلی الله عليه وسلم وويل:

اسلام پر پنځو شيانو جوړ دی ، د شهادت کلمه ويل ، لمونځ درول، زکات ورکول، حج کول او د رمضان روژه نيول.

د شهادت کلمې ژباړه: زه په دې سره شاهدي ورکوم چې بېله الله بل معبود نسته او په دې سره شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول او بنده دی.

## لومړۍ برخه: ایمان

ایمان: ایمان باور او منلو ته وایي.

د الله عز وجل ، د هغه د رسولانو ، د هغه کتابونو، د هغه د ملایکو، د خیر او شر چې د الله له طرفه دی او د قیامت ورځ منلو ته ایمان وایي.

ایمان تر زړه پورې تړاو لري، په زړه سره تصدیق کول ایمان دی.

### د ایمان خوند:

عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ذَاقَ طَعْمَ الإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالإِسْلاَمِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولاً.

(رواه مسلم)

ژباړه: هغه چا د ایمان خوند وڅکی ، کوم څوک چې د الله په رب والي، د اسلام په دین والی او د محمد علیه السلام په رسول والي راضي سو.

## د ایمان برخې:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ. (رواه مسلم)

ژباړه: ایمان څه بالا اویا ۷۰ برخې دي اوحیا د ایمان یوه برخه ده.

## د کلمې ویلو فضیلت:

عَنْ عُثْمَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ. (رواه مسلم)

ژباړه: څوک چې په داسې حالت کې مړ سي چې دی په لا اله الا الله کلمه باندې یقین لري، جنت ته به داخل سي.

## د کفر تعریف:

کفر په لغت : کې انکار (نه منلو) ته وایي.

په شریعت کې : د الله نه منل، د رسولانو، ملایکو، اسماني کتابو او د نورو فرضیاتو او یا هم عقیدوي شیانو نه منلو ته کفر وایي.

مثال: زکات نه منل، اخرت نه منل، جنت نه منل ، د قبر عذاب نه منل ، لمونځ نه منل او داسې نور...

## د شرک تعریف:

شرک په لغت کې: ګډون ته وایي.

په اصطلاح کې: د الله جل جلاله سره په عبادت، تصرف، صفاتو او نورو کارونو کې د هغه مخلوق ور ګډولو ته وایي.

مثال: الله عالم ذات دي که څوک مخلوق هم داسې عالم وګڼي نو شرک یې و کړ.

۲- الله ته خاص عبادت کېږي، که څوک بل مخلوق هم په عبادت کې په نیت کې ونیسي نو دا شرک سو.

۳- الله د هر کار کوونکی او کنټرولونکی دی، که څوک مخلوق هم دا شان وبولئ نو دا شرک سو.

شرک لویه او نه بخښونکې ګناه ده، که څوک په شرک کې مړ سې نو بېله شکه چې جهنم یې ځای دی.

## د بدعت تعریف:

بدعت په لغت کې: نوی کار ته وایي.

په شريعت كې: هر هغه نوى كار چې په شريعت كې اصل و نه لري او يو انسان يې په دين كې ور داخلوي.

مثال: يوه ورځ د خيرات او يا عبادت كولو لپاره خاصول او د ثواب اميد يې در لودل، كوم چې په دين كې هيڅ دليل نلري.

٢- د ځان څخه ذكر جوړول او بيا هغه ته خپله يو اندازه ټاكل او د ثواب اميد در لودل، چې په دين كې هيڅ ثبوت نلري.

٣- د اذان كولو وروسته بيا د لمانځه دپاره ناره كول. او نور...

بدعت حكم: بدعت ګمراهي ده او انسان تر جهنم پورې رسوي.

## دوهمه برخه: لمونځ

### د مسواک وهلو اهميت:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَرْفَعُهُ قَالَ: لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ لأَمَرْتُهُمْ بِتَأْخِيرِ الْعِشَاءِ وَبِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلاَةٍ. (ابوداود)

ژباړه: ابوهريره رضي الله عنه وايی چې رسول الله عليه السلام وفرمايل: که چېرې پر مومنانو زما له طرفه تکليف نه را تلای ، نو ما به دوی د ماخستن د لمانځه پر ځنډولو او په مسواک وهلو امر کړي وای.

## د ضرورت پوره کولو په وخت کې لاندې کارونه منع دي:

لومړی: مخامخ د قبلې طرف ته کښېناستل.

دوهم: شا د قبلې طرف ته اړول.

درېیم: په راسته لاس استنجاء(ځان پاکي) کول.

لاندې حديث دليل دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْوَالِدِ أُعَلِّمُكُمْ فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْغَائِطَ فَلاَ يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلاَ يَسْتَدْبِرْهَا وَلاَ يَسْتَطِبْ بِيَمِينِهِ)). (رواه مسلم)

ژباړه: ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم و فرمايل: زه تاسو ته ستاسو د ښوونې لپاره د پلار په منزله يم ، کله چې په تاسو کې يو د ضرورت پوره کولو ته راسي، مخامخ دې قبلې طرف ته نه کښېني او نه دې شا ور اړوي، او په راسته لاس دې استنجاء نه وهي.

## د اوداسه ښودنه:

لومړی: د اوداسه نیت کول.

دوهم: د اوداسه په پیل کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل.

دریيم: تر بندو پورې د لاسونو درې ځلې پرېولل.

څلورم: د خولې درې ځلې پرېولل.

پنځم: د پزې درې ځلې پرېولل او د پزې تک وهل.

شپږم: د مخ درې ځلې پرېولل.

د مخ اندازه: د تندی د وربښتانو څخه بیا د زني تر لاندې برخې پورې او د یوه غوږ د نرمۍ څخه بیا د بل غوږ تر نرمۍ پورې.

اووم: د دواړو لاسونو درې ځلې پرېولل تر څنګلو پورې ، لومړی راسته لاس او بیا چپه لاس.

اتم: د ټول سر مسحه یو ځل کول.

نهم: د دواړو غوږونو مسحه کول.

د سر مسحه د دواړو لاسونو په ورغوو او ګوتو باندې کېږي او د مسحې دپاره یوازې د لاسونو لندوالی بسنه کوي.

لسم: دواړې پښې درې ځله تر بجلکو پورې پرېولل، لومړی راسته او بیا چپه پښه.

یادونه: که چېرې د اوداسه په اندامونو کې وچ ځای پاته سي نو اودس نه دي صحیح.

## د اوداسه کولو وروسته ذکر:

لاندې ذکرونه د اوداسه وروسته ویل زیات ثواب لري:

لومړی: اَشْهَدُ اَن لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْکَ لَهُ، وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَ رَسُوْلَهُ.

ژباړه: زه شاهدي ورکوم چې بېله الله څخه بل معبود نسته، هغه یو دی شریک نه لري، او شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول او بنده دی.

دوهم سُبْحَانَکَ اللَّهُمَّ وَ بِحَمْدِکَ وَ اَشْهَدُ اَن لَا اِلَهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُکَ وَ اَتُوْبُ اِلَيْکَ.

ژباړه: یا الله! ته پاک یې او ستا حمد بیانوم، شاهدي ورکوم چې بېله تا څخه بل معبود نسته، ستا څخه بخښنه غواړم او تا ته توبه کاږم.

## د اوداسه فضیلت:

إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَل. (رواه البخاري)

ژباړه: په تحيق سره زما امت به د قيامت په ورځ را وبلل سي، په داسې حالت کې چې اندامونه به يې د اوداسه د اثراتو څخه روښانه وي، کوم څوک چې له تاسو څخه د خپل روښنايي د اوږدولو توان لري، نو دا کار دې وکړي.

مطلب: کوم څوک چې اودس کوي ، د قيامت په ورځ به يې د اوداسه اندامونه روښانه وي، نو که څوک غواړي چې خپل د اندامو روښنايي اوږده کړي ، نو د اوداسه اندامونه دې تر خپل ټاکلې اندازې نور هم لوړ پرېولي.

## لمونځ:

تاسو پوهېږئ چې لمونځ د ټولو عباداتو سر دی، د مسلمان او کافر تر منځ فرق په لمانځه کې دی.

د ايمان څخه وروسته تر ټولو لومړی او لوړترينه عبادت لمونځ دی او د د ټولو اعمالو د قبلېدو لپاره شرط دی.

لمونځ هغه وخت قبلېږي چې په صحي طريقه سره ادا سي، صحي هغه وخت ادا کېدلای سي چې د انسان عملي هم زده وي او په معنا يې هم پوهېږي.

زده کړه يې هغه وخت کېدلای سي چې انسان د خپل رسول عليه السلام د لمانځه کولو طريقه تعقيب کړي او عملي يې کړي.

لمونځ د ټولو بديو مخنيوی کوي، خو چې په پوره توګه ادا سي.

## د لمانځه شرطونه:

شرط د لمانځه هغه برخه ده چې د لمانځه څخه بهر ده، خو پوره کول يې هتمي دي، که پوره نسي نو لمونځ نه صحيح کېږي.

لاندې شرطونه بايد ضرور پر ځای کړو.

لومړی شرط پاکي:

په پاکي کې لاندې شيان داخل دي:

١- د بدن پاکي: چې د مرداری ، بې اودسۍ او جنابت څخه بايد پاک وي.

٢- د جامو پاکي: چې د هر رنګه مرداری څخه پاکه وي.

٣- د ځای پاکي: چې پر کوم ځاي لمونځ کېږي، هغه ځای بايد د مرداری څخه پاک وي.

دوهم شرط د عورت پټول:

د نارينه عورت: د نامه څخه بيا تر زنګنو پورې دی، بايد په لمانځه دغه ځای پټ وي.

د ښځې عورت: بېله مخ، ورغوو او قدمو څخه ټول بدن عورت دی، بايد چې په لمانځه کې پټ وي.

درېيم شرط نيت کول دي:

د لمانځه لپاره بايد په زړه کې نيت وسي چې کوم لمونځ دی ، هغه به په نيت کې معلوموي.

څلورم شرط قبلې ته مخامخ درېدل دي:

لمونځ کوونکی بايد د قبلې طرف ته د لمانځه کولو په وخت و درېږي.

پنځم شرط د لمانځه وخت دی:

لمونځ بايد په خپل وخت کې وسي او بېله وخته لمونځ نه صحيح کېږي.

## د لمانځه پيل:

د لمانځه پيل په تکبير يعني الله اکبر ويلو سره کېږي.

طريقه يې داسې ده:

کله چې لمونځ کونکی  قبلې ته مخامخ ودرېږي، لاسونه دې پورته کړي او د غوږو سره برابر دې يې ودروي.

د لاسونو او ګوتو  مخان(ورغوي او د ګوتو پسته برخه) بايد د قبلې طرف ته برابر کړي.

د ګوتو يوځای کول او يا پوره جلا کول نه دي پکار ، بلکې خپل حالت ته پرېښودل يې صحي دي.

د لاسو او ګوتو مخان  د قبلې څخه اړول نه دي پکار.

د لاسو پورته کولو وروسته تکبير ويل کېږي او لاسونه کښته کېږي.

تکبير: اَللّٰهُ اَکْبَرُ  معنا يې ده:  الله لوی دی.

د دې ځای څخه لمونځ پيل سو او دنورو کارنو څخه لمونځ کونکی بند سو ، لکه خبري کول ، شا او خوا کتل ، په يوشي سات تېرول  او نور.

## په لمانځه کې صحي درېدل:

څوک چې د درېدو توان لري،  پر هغه باندې ولاړه فرض ده او په ناسته يې لمونځ نه صحيح کېږي.

د برابر درېدو لپاره بايد لاندې کارونه وکړو.

لومړی: په ولاړه کې د سترګو نظر لاندې اچول: شا او خوا کتل نه دي پکار چې د لمانځه خشوع یې خرابه نسي.

دوهم: سېده درېدل: د سر او یا د نور بدن کږول نه دي پکار، ټوله بدن باید برابر سېده ولاړ وي.

درېیم: د پښو سېده کول: باید د پښو ګوتي د قبلې طرف ته سېده برابري وي، د قدمو کږول نه دي پکار.

د پښو په مابینځ کې ډېره فاصله(ډېري لرې ایښودل) او یا هم ډېر سره نژدې کول نه دي پکار ، په څومره اندازه چې انسان ښه هوسا درېدلای سي هم هغه اندازه دې پښې سره لرې کړي.

## د لمانځه پیل د الله تعالی په ثناء(ستاینې) سره:

لمونځ د الله رب العزت په حمد او ستاینې سره شروع کول یو سنت عمل دی.

د پیل ذکرونه په احادیثو کې ډېر راغلي دي، دلته موږ یو ذکر لیکو ، کوم چې د لمانځه په پیل کې ویل کېږي.

دا باید په یاد ولرو چې حروف(توري) ضرور په صحي ډول ادا کړو.

ثناء:

سُبْحَانَکَ اللهُمَّ وَ بِحَمْدِکَ وَ تَبَارَکَ اسْمُکَ وَ تَعَالَى جَدُّکَ وَ لَا اِلَهَ غَيْرُکَ.

ژباړه: پاکي ده تا لره اې الله! زه ستا حمد (ثناء، ستاینه) وایم ، ستا نوم مبارک دی، ستا ذات لوړ دی، او بېله تا څخه بل څوک معبود نسته.

د دې ثناء څخه پرته نورې دعاګانې هم په احادیثو کې راغلي دي ، هر يو چې مو خوښ وي هم هغه ووایاست.

## په لمانځه کې -الحمد لله- ویل او د هغه پښتو ترجمه:

د ثناء (سبحانک اللهم) ویلو وروسته لمونځ کونکی باید لاندې شیان ووایي.

لومړی: تعوذ: اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْم.

ژباړه: په الله سره پناه غواړم د ترټل (شړل) شوي شیطان څخه.

دوهم: بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ.

ژباړه: شروع کوم په نامه د الله ، چې زیات مهربان او پوره رحم لرونکی دی.

دریيم: سُوْرَةُ الْفَاتِحة: ۷ ایتونه لري.

۱- اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنْ.

ژباړه: ثنا او ستاینه ده الله لره ، چې پالونکی د ټولو مخلوقاتو دی.

۲-اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِیمَ.

ژباړه: چې مهربان او رحم لرونکی دی.

۳- مَالِکِ یَوْمِ الدِّیْنِ

د قیامت د ورځې خښتن دی.

۴- اِیَّاکَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاکَ نَسْتَعِیْنُ.

ژباړه: یوازې ستا عبادت کوو او یوازې ستا څخه مرسته غواړو.

۵- اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ.

ژباړه: موږ ته برابره لار وښیې.

٦- صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ.

د هغو کسانو لار چې تا احسان ور باندې کړی دی.

۷- غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّیْن.

ژباړه: نه د هغو کسانو لار چې غضب ور باندې سوی دی او نه د هغو کسانو لار چې گمراه دی.

## رکوع کول:

د صحیح رکوع لپاره لاندې کارونه باید عملي کړو:

لومړی: په رکوع کې سر، ملا او مقعدة باید سره برابر وي.

دوهم: په رکوع کې باید لاسونه پر زنګنو پراته وي او د لاسو ګوتې باید خلاصې وي.

دریيم: لاسونه باید د لمونځ کوونکی د بغلو څخه لیرې وي.

څلورم: په رکوع کې باید کښته وکتل سي.

پنځم: د پښو ګوتې باید د قبلې طرف ته سیده وي.

رکوع ته د کښته کېدو لپاره باید تکبیر(الله اکبر) وویل سي.

په رکوع کې باید تسبیح لږ تر لږه درې ځلې وویل سي او زیات ویل یې اندازه نه لري، هر څومره ویلای سي.

تسبیح: سُبحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم.

ژباړه: زما لوی رب پاک دی.

رکوع چې پوره سوه، باید ولاړ سو او ودرېږو ، او لاندې دوې جملې په ولاړه ووایو.

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ.

ژباړه: الله د حمد ویونکي حمد اوري.

رَبَّنَا وَ لَکَ الْحَمْدُ.

ژباړه: اې زموږ ربه تا لره حمد دي.

رکوع فرض ده ، باید ضرور یې په سمه توګه او ارامۍ سره وکړو او د تلوار څخه ځان وساتو چې رکوع مو خرابه نسي.

## په صحیح طریقه سجده کول:

د رکوع څخه وروسته تکبیر ویل کېږي او لمونځ کونکی سجدې ته کښته کېږي.

په کښته کېدو کې لومړی زنګنونه ، دوهم لاسونه او دریم تندی پر ځمکه لګول کېږي.

سجده د تندي اوپزي، دواړو لاسونو، دواړو زنګنو او دواړو پښو په ایښودلو کېږي، که دغه اندامونه پر ځمکه نه کښېښودل سي نو سجده نه صحي کېږي.

لاندې کارونه په سجده کول ضروري دي.

لومړی: لاسونه د غوږو برابر ایښودل او دلاسو ګوتي سره یوځای کول، تر څو د لاسو د ګوتو سرونه قبلې ته برابر سي.

دوهم: لاسونه د ځمکي څخه پورته کول او څنګلي د بغلو څخه لیري کول.

درییم: نس او ورنونه سره لیري کول.

څلورم: د پښو قدمونه پر مځکه درول، دواړه قدمونه سره یوځای کول او د پښو کوتي پر مځکه کتول تر څو د ګوتو سرونه قبلې ته مخامخ سي.

پنځم: په سجده کې لږ تر لږه درې ځلي تسبیح ویل او زیات ویل یې اندازه نه لري.

تسبیح: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى.

ژباړه: زما لوړ رب پاک دی.

شپږم: د سجدې څخه د راپورته کېدو حالت کې تکبیر ویل او د دوو سجدو په منځ کې کښېنستل، لکه څنګه چې په لمانځه د التحیات دپاره کښېني.

## په لمانځه کې صحیح ناسته:

په لمانځه کې د کښېنستو لپاره باید لاندې کارونه وکړو.

لومړی: راسته پښه د ځان څخه وباسو، پښه ودروو او ګوتي یې ور کت کړو تر څو د ګوتو سرونه د قبلې طرف ته برابر سي.

دوهم: چپه پښه پرې باسو (هواره) کړو او پر چپه پښه کښېنو.

دریيم: لاسونه پر ورنو کښېږدو او د ګوتو سرونه يې قبلې ته برابر کړو.

څلورم: په ناسته کې د خپل لاسونو او یا هم د خپل ځیګر طرف ته وګورو.

پنځم: په ناسته کې تشهد(التحيات لله...) ووايو.

شپږم: که اخري ناسته وه ، درود او وروسته د خپل ځان لپاره دعا ووايو.

اووم: تر دې کارو پوره کولو وروسته سلام و ګرځو.

## په لمانځه کې (تشهد) ويل او د هغه ژباړه:

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّهِ وَ الصَّلَوَاتُ وَ الطَّيِّبَاتُ.

ژباړه: ژبني، بدني او مالي عبادتونه د الله دپاره دي.

اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَ بَرَکَاتُهُ.

سلام ، د الله رحمت او برکتونه دې وي پر تا باندې اې نبي!

اَلسَّلَامُ عَلَينَا وَ عَلَی عِبَادِاللهِ الصَّالِحِينْ.

پر موږ او د الله پر نېکو بندګانو دې سلام وي.

اَشهَدُ اَنْ لَا اِلَه اِلَّا اللهُ

زه شاهدي ور کوم چې بېله الله څخه بل معبود (چې عبادت يې کېږي) نشته.

وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَ رَسُوْلُهُ.

او په دې شاهدي ورکوم چې محمد د الله بنده او رسول دی.

## د لمانځه اخري برخه:

تر تشهد وروسته درود ویل:

لومړی: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيد.

ژباړه: یا الله پر محمد او د هغه پر اهل رحمت نازل کړې، لکه څنګه چې تا پر ابراهیم او د هغه پر اولاد رحمت نازل کړی دی، بېله شکه ته حمید (د ستاینې خاوند) او مجید (لوړ) ذات یې.

دوهم: اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيد.

ژباړه: یا الله پر محمد او د هغه پر اهل برکت نازل کړې، لکه څنګه تا پر ابراهیم او د هغه پر اولاد برکت نازل کړی دی، بېله شکه چې ته حمید او مجید ذات یې.

## په وروستنۍ برخه کې د ځان دپاره دعا کول:

اللّهمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَ فِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَ قِنَا عَذَابَ النَّارِ.

ژباړه: یا الله! موږ ته په دنیا کې نیکي راکړه او په آخرت کې نیکي راکړه او د اور د عذاب څخه مو وساته.

## سلام گرځول:

اول راسته طرف ته او بیا چپه طرف ته ،

د مخ اړولو په وخت کې خپل نظر د اوږې طرف ته کول ښه دي.

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَةُ اللهِ.

ژباړه: پر تاسو دې سلامتیا او د الله رحمت وي.

## د فرضي لمانځه وروسته اذکار:

لاندې څو ذکرونه لیکو:

لومړی: اللّٰهُمَّ اَنتَ السَّلَامُ وَ مِنْكَ السّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ والْاِكْرَام.

ژباړه: یا الله! ته سلام يې او ستا له طرفه سلامتیا ده، ته مبارک يې ، ای د لویي او د عزت خاونده.

دوهم: لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْر.

ژباړه: بېله الله څخه بل معبود نسته، هغه یو دی ، شریک نه لري ، پاچاهي د هغه ذات ده، ستاینه او ثنا د هغه ذات دپاره ده، او هغه پر هر څه قدرت(توان) درلودونکی دی.

درېیم: اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلَى ذِکْرِکَ وَ شُکْرِکَ وَ حُسْنِ عِبَادَتِکَ.

ژباړه: یا الله ! ماته ستا پر ذکر، شکر او ښه عبادت کولو توان راکړه.

څلورم: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْکُفْرِ وَ الْفَقْرِ وَ عَذَابِ الْقَبْرِ.

ژباړه: یا الله! زه په تا سره پنا غواړم د کفر، فقر او عذاب د قبر څخه.

پنځم: آیة الکرسي ویل.

شپږم: ۳۳ ځلې سُبْحَانَ اللهِ ، ۳۳ ځلې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، ۳۳ ځلې اَللّٰهُ اَکْبَرُ او یو ځل لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْکَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْکُ وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى کُلِّ شَيْءٍ قَدِيْر کلمه ویل.

## د لمانځه فاسدونکي(خرابونکي) کارونه:

په لمانځه کې لاندې کارونه کول لمونځ خرابوي او لمونځ بېرته د سره راګرځول غواړي.

لومړی: د لمانځه په حالت کې د قبلې څخه سینه اړول.

دوهم: په لمانځه کې عورت لځېدل.

درېیم: په لمانځه کې بې اودسه کېدل.

څلورم: په لمانځه کې خوراک یا څښاک کول.

پنځم: په لمانځه کې خبرې کول.

شپږم: په لمانځه کې جامې او یا بدن مردارېدل.

اووم: د لمانځه یو رکن(فرض) پرېښودل، لکه سجده، رکوع او یا قراءت.

اتم: په لمانځه کې په اواز لرونکې خندا سره خندل.

## په کور کې هم باید نفلي لمونځ وسي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلاَتِكُمْ وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا. ( بخاري)

ژباړه: یو څه برخه د لمانځه د کور دپاره ورکړئ ، د کورونو څخه قبرونه مه جوړوئ.

## په سجده کې ډېرې دعاګانې کول:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ. (رواه مسلم)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بنده خپل رب ته په سجده کې ډېر نژدې وي، نو تاسو دعاوې ډېرې کوئ.

د سجدې يوه دعا دا ده:

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي.

ژباړه: اې زموږ ربه ته پاک يې، زه ستا حمد بيانوم، يا الله ما ته بخښنه وکړه.

(رواه مسلم)

## درېيمه برخه: د روژې فرضيت او فضيلت:

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ.

[سُورَةُ البَقَرَة : 183]

ژباړه: اې مؤمنانو! پر تاسي روژې فرض کړای شوې، لکه چې ستاسي څخه د مخکني پېغمبرانو پر پيروانو فرض کړای شوي وې، ددې لپاره چې په تاسي کي د پرهيزګارۍ صفت پيدا شي.

١- ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وويل: کله چې د روژې مياشت راسي ، د جنت دروازې خلاصي او د دوزخ دروازې بندي سي ، او شيطانان وتړل سي. (بخاري او مسلم)

٢- د سهل ابن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی ، چې رسول الله صلی الله عليه

و سلم و فرمايل: د جنت اته ۸ دروازې دي، يوه دروازه يې د ريّان په نامه ده چې يوازې روژه نيونکي پر دې دروازه ننوزي.

(بخارى او مسلم)

۳- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله عليه السلام وويل: څوک چې روژه د ايمان او ثواب لپاره ونيسي، د ده تېر ګناهونه معاف سول، څوک چې د روژې مياشت د ايمان او ثواب لپاره په عبادت تېره کړي ، تېر ګناهونه يې معاف سول او څوک چې د قدر شپه د ايمان او ثواب لپاره په عبادت تېره کړي، تېر ګناهونه يې معاف سول.

(بخارى او مسلم)

۴- همدغه صحابي بل روايت کوي چې رسول عليه السلام وفرمايل: د ادم د زوى هر نيک عمل په لس څله تر اووه سوه درجې پورې رسېږي، الله وايى: "يوازې روژه ده چې هغه زما لپاره ده او زه ده ته ثواب په دې روژه سره ورکوم ، ده زما لپاره نفساني خوندونه او خورک بند کړى دى". د روژاتي لپاره دوې خوشهالۍ دي. يو دا چې کله روژه مات کوي او بل دا چې کله د خپل رب سره ملاقات کوي. د روژاتي د خولې بوى الله ته تر مشکو ډېر خوښ دى. روژه د ګناهو په وړاندې سپر دى. کله چې څوک روژه نيسي نو ښکنځل او بدي دې نه وايي ، که چا ده ته

بد وويل او يا يې جنګ ور سره کوی، نو دی دې ورته ووايي چې زما روژه ده.
(بخاری او مسلم.)

## څلورمه برخه: د زکات فرضیت او فضیلت:

وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّٰكِعِينَ. [سُورَةُ البَقَرَة : 43]

ژباړه: او لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ او کوم خلك چې ما ته سر ټیټوي، تاسي هم له هغو سره ټیټ شئ!.

إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا الزَّكَوٰةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ. [سُورَةُ البَقَرَة : 277]

ژباړه: هو، کوم کسان چي ایمان راوړي او غوره عملونه وکړي او زکات ورکړي، د هغو ثواب بې شکه د هغوی د رب سره دی او پر هغوی څه وېره او کړاو نشته.

### د زکات نه ورکولو سزا :

وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ.
[سورة التوبه ۳۴].

ژباړه: او هغه خلك چې سره او سپین زر خزانه کوي او د خدای په لاره کښې یې نه لګوي؛ نو دوی ته د دردناکه عذاب زیری ورکړه.

يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ.

[سُورَةُ التّوبَة : 35]

یوه ورځ به راشي چې په همدې سرو سپينو زرو به د دوزخ اور ګرم کړای شي او بیا به په هغو سره ددې خلکو تندې، اړخونه او شاګانې داغ کړه شي. دا هغه خزانه ده چې تاسې د خپلو ځانونو لپاره غونډه کړې وه. واخلئ، اوس د خپلې زیرمه کړې شتمنۍ خوند وڅکئ.

## پنځمه برخه : استغفار(توبه کښل)

### توبه و باسئ!

د الله رسول صلى الله عليه وسلم وایي:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللَّهِ فَإِنِّي أَتُوبُ فِي الْيَوْمِ إِلَيْهِ مِائَةَ مَرَّةٍ.  ( مسلم)

ژباړه: اې خلکو! الله ته توبه وکاږئ، بې له شکه زه الله ته په ورځ کې سل ځله توبه کاږم.

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَ اَتُوْبُ اِلَيْهِ.

## د استغفار ويلو او توبې کښلو ګټې:

لومړی: الله عز وجل به باران را باندې را و اوروي.

دوهم: الله عز وجل به مالونه در کړي.

درېيم: الله عز وجل به اولادونه درکړي.

څلورم: الله جل جلاله به د ښه ژوند وسايل درته برابر کړي.

پنځم: الله عز وجل به قوت درکړي.

شپږم: الله جل جلاله به ګناهونه در ته معاف کړي.

اووم: الله عز وجل به جنتونه درکړي.

اتم: الله به خپل فضل درکړي.

نهم: د هر کار لپاره استغفار ويل ګټه لري.

لسم: د بنده په توبه کښلو الله جل جلاله تر څه ډېر خوشهاله کېږي.

## د توبې قبلېدلو وخت:

نبي صلی الله علیه و سلم فرمايي: الله عز و جل د خپل بنده توبه تر هغه وخته قبلوي تر څو چې غرغره سوی نه وي. (رواه ترمذي.)

یعني تر څو چې د ساه ختلو وخت يې نه وي راغلی تر هغو د خپل بنده توبه قبلوي. په وخت د مرگ راتللو کې يې بيا توبه نه قبلېږي.

## د استغفار ويلو الفاظ:

لومړی: اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ.

ژباړه: د الله څخه بخښنه غواړم.

دوهم: اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَ اَتُوْبُ اِلَيْهِ.

ژباړه: د الله څخه بخښنه غواړم او هغه ته توبه باسم.

درېیم: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ.

ژباړه: يا الله! ماته بخښنه وکړه.

څلورم: رَبِّ اغْفِرْلِيْ.

ژباړه: زما ربه! ما ته بخښنه وکړه.

پنځم: اَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِيْ لَا اِلَهَ اِلاّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَ اَتُوْبُ اِلَيْه.

ژباړه: د الله څخه بخښنه غواړم، کوم چې بېله ده څخه بل معبود نسته ، ژوندی او ثابت ذات دی او هغه ذات ته توبه کاږم.

## شپږم: سيد الاستغفار(د استغفار سرادار):

د بخاري شريف حديث دي چې څوک په ورځ کې دا دعا ووايي او په دغه ورځ مړ سي، جنت ته ځي او که ماښام يې ووايي او په داغه ماښام کې مړ سي ، جنت به داخل سي.

هغه دعا دا ده:

اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ.

ژباړه: يا الله ته زما رب يې، بېله تا څخه بل څوک د عبادت وړ نسته، تا زه پيدا کړی يم، زه ستا بنده يم او زه د خپل توان په اندازه ستا پر عهد او وعده ولاړ يم، زه ستا په نعمت چې پر ما دې کړی تا ته اقرار کوم او زه تا ته زما په گناه باندې اقرار کوم، نو ماته بخښنه وکړه په حقيقت کې بېله تا څخه بل څوک گناهونه نسي بخښلای، زه په تا سره پنا غواړم د هغه شر څخه چې زه يې کوم.

اووم: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي.

ژباړه: یا الله! ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته هدایت وکړه، ما ته عفوه وکړه او ما ته رزق را کړه.

یادونه: نور د استغفار الفاظ هم په احادیثو کې ډېر زیات راغلي دي، دلته په همدې باندې بسنه کوو.

## شپږمه برخه: اذکار

### د ذکر کولو فضیلت:

۱-الَّذِينَ ءَامَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ.

[سُورَةُ الرّعد : 28]

ژباړه: همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلك هغه کسان دي چې (ددې پېغمبر بلنه ) يې منلې ده او د هغو زړونو ته د الله په یاد سره اطمنان ور په برخه کېږئ.
خبردار اوسئ! همدغه د الله یاد هغه شی دی چې زړونو ته ارام ورپه برخه کوي.

۲- فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَوٰةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ. [سُورَةُ الجُمُعَة : 10]

ژباړه: بیا کله چې لمونځ تر سره شي، نو په ځمکه کښې خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډېر ډېر یادوونکي اوسئ. ښایي چې تاسي ته برى په برخه شي.

٣- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْعِبَادِ أَفْضَلُ دَرَجَةً عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ: الذَّاكِرُونَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ.

(رواه ترمذي)

ژباړه: ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې د الله په اند کې کوم عبادت د درجې په اعتبار غوره دي؟

رسول الله عليه السلام وويل: ډېر ذکر کوونکي نارينه او ښځې.

## د دعا نه غوښتلو زيان:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَمْ يَدْعُ اللَّهَ سُبْحَانَهُ غَضِبَ عَلَيْهِ. ( رواه ابن ماجه)

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: څوک چې د الله څخه دعا نه غواړي، الله رب العزت ورباندې په غوسه او قهر کېږي.

## د سهار او ماښام ځيني اذکار:

لومړى: اَللّٰهُمَّ بِکَ اَصْبَحْنَا وَ بِکَ اَمْسَيْنَا وَ بِکَ نَحْيَا وَ بِکَ نَمُوْتُ وَ اِلَيْکَ الْمَصِيْرُ.

ژباړه: يا الله! په تا سره سهار كوو او په تا سره ماښام كوو، په تا سره ژوند كوو او په تا سره مرو او ستا و طرف ته درتګ دی.

دوهم: لَا اِلهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْکَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْکُ وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

دریيم: دري ځلي لاندې جملې ويل:

رَضِيْتُ بِاللهِ رَبًّا وَ بِالْاِسْلَامِ دِينًا وَ بِمُحَمَّدٍ نَّبِيًّا.

ژباړه: زه په دې خوښ يم چې الله مې رب دی، اسلام مې دين دی او محمد صلی الله عليه وسلم مې نبي دی.

څلورم: سل ځله سُبْحَانَ اللهِ وَ بِحَمْدِهِ ويل.

پنځم: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ.

ژباړه: د الله په کاملو کلماتو سره د هر هغه شر څخه پنا غواړم چې هغه ذات پيدا کړی دی.

د دې دعا په ويلو سره انسان ته هيڅ شی زيان نسي رسولای.

(رواه مسلم)

شپږم: لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ.

اووم: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ.

اتم: اَللّٰهُ اَكْبَرُ

نهم: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَ بِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْم.

لسم: سيد الاستغفار ويل ، چې مخکې ليکل سوی دی.

يولسم: بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ في الأَرْضِ وَلا في السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ.

د هر زيان او ضرر څخه د بچ کېدو دپاره نبوي دالیل:

وعن عثمان بن عفان رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُولُ في صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ: بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ في الأَرْضِ وَلا في السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ، ثَلاثَ مَرَّاتٍ، إلا لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ. [رواه أَبُو داود والترمذي]

ژباړه : عثمان ابن عفان رضي الله وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: هيڅ يو بنده ته به هيڅ شی زيان و نه رسوي ، کله چې دی د هري ورځې په سهار کې او د هري شپې په ماښام کې دغه دعا درې ځلي ووايي: بسم الله الذي ...... تر اخره پوري.

په يقين سره ويل يې بلکل زيان او ضرر بندوي.

يادونه: اذکار ډېر زيات دي، دلته په همدې باندې بسنه کوو.

# اوومه برخه: مختلف معلومات

## د الله رحمت تر غضب ډېر دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ سَبَقَتْ رَحْمَتِي غَضَبِي. ( رواه مسلم.)

ژباړه: الله جل جلاله وايي: زما رحمت زما تر غضب مخکې دی.

## غوره وينا:

کله چې دې والدين د يو کار دپاره غوره کړي، په دې پوه شه چې الله تعالی دا عبادت ستا په برخه کړ.

## د غوصې د نيولو اجر:

څوک چې خپل غوصه په داسې حال کې کنټرول کړي چې دی يې د عملي کولو توان هم لري ، الله به دغه انسان د قيامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو پر سرو را

وبولي تر څو چې ده ته د غټ سترګو حورې خوښه ورکړي چې کومه د ده خوښه وي هغه دې واخلي.

(سنن ابی داود).

## د غوصي ګرځولو لاره:

عن أبي ذر، قال: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لنا: «إذا غضب أحدكم وهو قائم فليجلس، فإن ذهب عنه الغضب وإلا فليضطجع.

( رواه ابوداود).

ژباړه: ابوذر رضي الله وايي چې رسول الله علیه السلام موږ ته وفرمايل: کله چې په تاسو کې يو په غوصه سي او دی ولاړ وي، نو دې کښېني ، که يې غوصه ختمه سوه، خو ښه ، کنه نو دې پرېوزي.

## د سود ډېرېدل:

عن أبي هريرة، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم، قال:

«ليأتين على الناس زمان لا يبقى أحد إلا أكل الربا، فإن لم يأكله أصابه من بخاره.

(رواه ابوداود.)

ژباړه: هرو مرو به پر خلګو داسې وخت راسي چې هیڅ څوک به د سود خوړلو څخه پاته نسي، که چیري یو څوک سود و نه خوري لا هم د سود ګرز ور رسیږي.

## د الله د نوم او صفاتو څخه بغیر په بل شی قسم اخیستل جایز نه دی.

عن عبد الله بن دينار، أنه سمع ابن عمر، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كان حالفا فلا يحلف إلا بالله (رواه مسلم) ژباړه: عبد الله ابن دینار د عبد الله ابن عمر رضی الله عنه څخه واوریدل، هغه ویل: چې رسول الله علیه السلام وویل:

څوک چې قسم اخیستونکی وي، نو دې قسم بیله الله څخه په بل څه نه اخلي.

## د سهار او ماځیګر تر لمانځه وروسته هیڅ لمونځ نه کیږي ، تر څو لمر را خیژي او لویږي.

عن ابن عباس، قال: شهد عندي رجال مرضيون فيهم عمر وأرضاهم عندي عمر «أن رسول الله صلى الله عليه وسلم» نهى عن صلاة بعد العصر حتى تغرب الشمس وعن صلاة بعد الصبح حتى تشرق الشمس " (مسند ابو داود.)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم

د ماځيګر تر لمانځه وروسته د بل لمانځه کولو منعه کړې ده تر څو چې لمر لوېږي او د سهار د لمانځه وروسته يې د بل لمانځه کولو منعه کړې ده تر څو چې لمر راخېژي.

## د جنت خاوندان:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ. [سورة البقرة ٨٢]

ژباړه: او هغه کسان چې ايمان يې راوړی او ښه اعمال کوي، هغه کسان د جنت خاوندان دي، دوی به همېشه په جنت کې وي.

## هوښياران څلور کسه دي:

لومړی: هغه څوک چې دنيا پرېږدي مخکې له دې چې دنيا دی پرېږدي.

دوهم: هغه څوک چې خپل قبر د ورتګ مخکې جوړ کړي.

درېيم: هغه څوک چې خپل خالق راضي کړي له دې مخکې چې د هغه سره مخامخ کېږي.

څلورم: هغه څوک چې لمونځ کوي مخکې له دې چې پر ده لمونځ وسي.

(د عربي څخه ژباړل سوی).

## څه چې وایاست هغه عملي کړئ

ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو ولې هغه څه وایاست کوم چې تاسو یې نه کوئ.

د الله په نزد غټه بېزاري ده هغه څه ته چې تاسو یې وایاست خو کوئ یې نه.

[سورة الصف ۳، ۴]

## د مشرتوب غوښتنه باید ونه کړو:

ابوهریره رضي الله عنه ته نبي علیه السلام وویل: ژر دی چې تاسو به په مشرتوب حارصان سئ او ژر دی چې دا کار به مو په قیامت کې پښېماني وي. (بخاري).

## د جهنم د اور سختوالی:

ابوهریره د نبي علیه السلام څخه دا خبره را نقل کوي چې هغه مبارک وفرمایل: هغه اور چې د ادم زامن یې بلوي، دا د جهنم د اویا ۷۰ حصو څخه یوه برخه ده. (موطا امام مالک).

## د قرءان کریم په اړه:

هغه ځوک د کنډواله کور مثال لري د کوم چا چې په نس کې د قرءان څخه څه شی نه وي. ( سنن دارمي)

## د انسان يو نا اشنا او بد عادت:

د الله تعالی کلام دی:  او که چیرې موږ انسان ته خپل رحمت په برخه کړو او بیا يې بېرته ورڅخه واخلو، نو هغه ناهيلي کيږي او په ناشکرۍ لاس پوري کوي.

[قرءان کريم سورة هود ۹ ايت].

## د دوزخيانو حالت:

أَفَمَنْ يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ وَقِيلَ لِلظَّالِمِينَ ذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُونَ.     [ سورة الزمر].

ژباړه: ايا هغه څوک چې په خپل مخ باندې د قيامت د ورځې سخت عذاب گرځوي. او ظالمانو ته به وويل سي چې وڅکئ هغه څه چې تاسو يې عمل کوئ.

د اخرت په ورځ جهنميان اور په مخ گرځوي،  مخ د بدن هغه نازولی غړی دی چې همېشه يې ساتني ته لاسونه را مخکې کيږي.

خو! په دوږخ کې به انسان خپل د بدن څخه په مخ دفاع کوي ځکه چې لاسونه او پښې به يې تړلي وي او په هغه نازولي اندام يعني مخ به د اور دفاع کوي.

سبحان الله نعوذ بالله من ذلک.

## الله رابولئ او دين د هغه ذات لوري ته ځانګړی کړئ:

فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ.    [ سورة غافر].

ژباړه: پس الله را بولئ په داسې حال کې چې دين يوازې الله لره خالص کونکي ياست، که هم څه کافران يې بد بولي.

## غوره وينا:

د ژمي شپې د عبادت لپاره او ورځې يې دد روژې لپاره لوی غنيمت دی.

## د شيطان قسم او وعده:

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ.

[سورة ص. ٨١]

ژباړه: شيطان وويل: ستا(الله) په عزت دې مې قسم وي چې زه به دوی (د ادم اولاد) ټوله د لارې ښخه اړوم.

نو! د شيطان سره مبارزه په کار ده.

## مونږ به خپل رب ته هرومرو ځو!

وَ اِنَّا اِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ.  (القرءان الكريم)

او موږ هرو مرو د خپل رب طرف ته ګرځېدونکي یو.

نو! راځئ چې خپل اعمال د هغه ژوند لپاره سم کړو کوم چې پای نلري

## قیامت پر کومو خلګو راځي؟

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ إِلاَّ عَلَى شِرَارِ النَّاسِ. (مسلم.)

ژباړه: قیامت پر هغو خلګو راځي چې هغوی د ټوله خلګو څخه شریر وي.

## د همسایه حق:

وعن ابن عمر وعائشة رضي الله عنهما قالا: قَالَ رَسُول الله صلى الله عليه وسلم: مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُورِّثُه.

متَّفَقٌ عَلَيه.

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: ما ته جبریل علیه السلام د همسایه په اړه تل وصیت کوی، تر داسې اندازې چې زما دا فکر سو چې یو همسایه به د بل همسایه څخه په میراث کې برخه وړي.

## د مسلمان د عيب پټولو اجر:

وعن أَبي هريرة رضي الله عنه عن النَّبيّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: لاَ يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا في الدُّنْيَا إلاَّ سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ.

رواه مسلم.

ژباړه: ابو هريره رضي الله عنه د نبي عليه السلام څخه دا خبره را نقل كوي چې پيغمبر عليه السلام وويل:

يو بنده به د بل بنده عيب پټ نه كړي مگر دا چې الله جل جلاله به د دغه پټونكي بنده عيب د قيامت په ورځ پټ كړي.

يادونه: د مسلمان دپاره پكار ده چې د خپل مومن ورور عيبونه پټ كړي او د ښكاره كولو هڅه يې و نه كړي، بيا به الله د دغه بنده عيبونه په اخرت كې چا ته نه ور ښكاره كوي او عيبونه به يې د خلكو څخه ور پټ كړي.

## د سورة الكهف تلاوت كول د جمعې په ورځ:

وعن أبي سعيدٍ عن النبي صلى الله عليه وسلم: من قرأ سورة الكهف في يوم الجمعة أضاء له من النور ما بينه وبين الجمعتين.

أخرجه الحاكم وصححه.

ژباړه: ابو سعيد رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه و سلم څخه دا خبره را نقل کوي، چې نبي عليه السلام وويل: کوم څوک چې د جمعې په ورځ سورة کهف ووايي، نو ده ته به د دوو جمعو په مينځ کې (چې کومې ورځې دي) د نوره څخه ډکې وي.

## پيغمبري پيغام:

تقوا وکړئ، پنځه لمونځونه مو وکړئ، ستاسو د مياشتې روژه ونيسئ، د خپلو مالو زکات ورکړئ، د خپلو اميرانو اطاعت وکړئ !

نو تاسو به د خپل رب جنت ته داخل سئ.

سَمِعتُ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم يَخْطُبُ في حجةِ الوداعِ، فَقَالَ: اتَّقُوا اللهَ وَصلُّوا خَمْسَكُمْ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ، وَأَدُّوا زَكاةَ أَمْوَالِكُمْ، وَأَطِيعُوا أُمَرَاءكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ.

رواه الترمذي.

**الحمد لله و صلى الله تعالى على رسول الله.**

# پای

د دعا محتاج: محمد اسحاق تمیم او د هغه ګرانه کورنۍ

تاریخ: ۱۳۹۹ هـ ش د حمل ۲٦ غرمه ۲:۴٦ بجې.

**کندهار، افغانستان**

Download from:aghalibrary.cm